# د افغان ترهګرو موجدګي او مقامي سهولتکاري
# د ککړو قبایلو نقل مکاني او په غټ کچا د اپریشن لپاره تیاری

ټي ټي پي په پاکستان کې د ترهګرۍ لپاره له افغانان استعمالوي، چې په ځینو سیمو کې محدودې اسانتیاوې هم لري. په تیرو دریو میاشتو کې د خیبر پښتونخوا په بیلا بیلو سیمو کې تر ۵۰ زیات افغان ترهګر وژل شوي دي، په داسې حال کې چې په ضم شویو ضلعو کې د ډیرو افغان ترهګرو د موجودیت او تګ راتګ راپوروونه ورکول کیږي ـ

**د پټو سرچینو له مخې په شمالي وزیرستان کې په غلام خان، دته خیل، شوال، شیوه او سپین وام کې، په داسې او د جنوبي وزیرستان په اعظم ورسک، زرملان، انګور اډه، خان کوټ، سرکنډۍ او لدها کې د ټي ټي پي د سیوري لاندې د افغان ترهګرو د موجودیت او د مقامي سهولتکارۍ په اړه کره شواهد موجود دي ـ**

**په شین ورسک او زنګاړا کې د افغان ترهګرو له وژلو وروسته د پاکستان دولت پریکړه کړې چې د ترهګرو او د هغوی د مرسته کونکو پر ضد به سخت ګامونه پورته کړي، د ترهګرو په سهولتکاري کښې د ککړو قبیلو عارضي نقل مکاني او په سیمه کښې په غټه کچا فوځي اپریشن او چیک پوستونو جوړولو ته حتمي شکل ورکړل کیږي ـ**

په دې لړ کې د افغانستان عبوري حکومت ته هم خبرداری ورکړل شوی چې له افغانانو څخه د پاکستان پر ضد د کار اخیستلو مخه ونیسي او په افغان خاوره کې د ټي ټي پي د پټنځایونو د له منځه وړلو په برخه کې د اغیزمنو اقداماتو په ترسره کولو سره په سیمه ییزه سوله کې خپل رول ولوبوي ـ